هفته نامهء
اتحاد اسلامی
شمارهء
فوق العاده
بیانگر آرمان اتحاد اسلامی افغانستان

PROPERTY OF ACKU

ازبکستان در افغانستان مداخله میکند (رئیس جمهور ربانی)
ص(۱۲)

احترام کعبة الله حرمت قرآن چه شد ؟!
ص (۷)

شمارهء مسلسل(۳۲۶)سال دهم ـ شمارهء سییم پنجشنبه (٤) حمل ۱۳۷۳ هـ ش (۱۲) شوال ۱٤۱٤ هـ ق (۲٤) مارچ ۱۹۹٤میلادی قیمت (۵۰) افغانی (یک روپیه)



د اتحاد اسلامی مجاهد امیر استاد سیاف د هغه وینا متن چی د رمضان په (۲۹) د هجرت کلی په جامع جومات کی اوروِلی وه:

● حزب اسلامی خلك ددی ملت جز دی، ددی خاوری جز دی، دوی دمسلمانانو یوه برخه ده خو قیادت یی سخت ناروا قیادت ده او دا بیچاره مسلمانان یی اری ماشین ته وراندی کړی. په ناروا باندی دوی اره کوی ..

● اوس هم موږ په دی لټه کی یوچی په افغانستان کی دی یو سالم نظام او یو سالم قیادت رامنځ ته شی هغه نظام چی خدای پری راضی وی، هماغه قیادت چی خدای ته منقاد وی او پاك خدای دی افغانستان هغو خلکوته وروسپاری چی دوی له خدایه ویریږی خدای ته نږدی وی او په مخلوق دخدای باندی رحم ولری... (۳) مخ

ددایمی سولی په خاطر دوزیرانو شورا طرحه
(۱۲) مخ

مأمور محمد خان داتحاد اسلامی افغانستان د بغلان دجهادی چارومسؤل او دبغلان ولایت د۷۷۳ غونډ او ۲۰ فرقی قوماندان د اتحاد اسلامی جریدی سره په مرکه کی (۹)مخ

بی اعتنائی حکمتیار به تلاش های صلح
ص(۲)

دشهادت دروغبانی لمند!
ص(۹)

بنام خداوندی که بی اندازه مهربان و نهایت با رحم است

سرمقاله

دکابل پرغم ځیلی ښار داختر راتګ ... دګولیو باران او دلوږی تویان ...

وړوکی اختر په واقع کی درمضان په ستر ازمیښت کی دمسلمانانو بری او دهغو خوښیو اظهار دی چی مومنان په دی توده معرکه کی دانسان پرپیروسترو باطنی دښمنانو (اماره نفس اوشیطان) باندی غالب راغلی دی او همدارنګه دهغو خوښیو اظهاردی چی مسلمانان یی دالهی ستری فریضی دانجاْمولو نه وروسته کوی .. دادمسلمانانو حق دی .. الله جل جلاله په خپلو خاصو پیرزوینو سره دوی ته ورکړی دی او رسول کریم صلی الله علیه وسلم هم فرمایلی دی چی دهر امت لپاره اختر دی ..:. هو دادتوجه وړده چی په اسلام کی اختر دجاهلی اخترونو څخه بنیادی توپیر لری او هغه داچی په جاهلی اختر ونو کی دفساد غونډو ، محافلو او انواعوته لارونق ورکول کیږی او نوی بنی غوره کوی ، مګر په اسلام کی داجتماعی عدالت ، سولی ، اخوت ، پیرزوینی ،ایثار تفقد اونوروسو انسانی اړیکو اومناسباتو ټینګول ، پرهمدغواصولو دعهدتجدید ،له غم ځپلوسره غمرازی، دیتیمانو، لوږوبرښډوږورو وراروستونځو ته رسیدل او دهغوی له سره دمصیبتونو اوغمونو بار لری کول اودالله جل جلاله درضاپه خاطر ، غم جن ، مرور، بیل اومات زړونه سره نږدی کول او رغول دی ...

زموږګران هیواد افغانستان په عمومی توګه دتیروڅوارلسوکلونو په دوران کی داخترونو په خوندنه دی پوه شوی اوتیر کمونست رژیمونه ددوی دمعمول له مخی همدغه داختر بختوری ورځی زموږدمسلمان ولس دتکولو لپاره ښه مناسب ګڼل اودهیواد په لروبروسیمو کی به یی مخکنی او هوایی قواوی رامرشی کړی او خلك به یی داختر په ورځو کی دغم به سیلابونو کی لاهوکول ..خو پروسږ او سږ کال چی په افغانستان کی سیاسی واګی دمجاهدینوپه لاس پر یوتی دی که څه هم دهیواد په نوروسیمو کی نسبتاً داړمن حالات وخو سږ کال بیاهغسی نه ده ، دهیواد ځینی سیمی او به خاصه توګه «کابل » داسی غمجنه صحنه وړاندی کوی
(۱۱) مخ

فتوحات چشمگیر مجاهدین در بغلان
ص(۱۲)

منطقهء وسیعی از ولایت بغلان از لوث وجود ملیشه های کیان و دوستم پاکسازی شد

با آتش اسلحهء ضد هوائی مجاهدین یك طیاره دوستم در مزارشریف سرنگون گردید

سال نو، سال نابودی آخرین بقایای نظام کمونیستی و سال استقرار صلح و امنیت در افغانستان بر ملت مجاهد افغان مبارک باد

بی اعتنائی حکمتیار به تلاش های صلح

پس از حمله همآهنگ ملیشه ها و حزب اسلامی علیه مواضع دولت در اول جنوری سال مسیحی جاری، کابل دچار مصیبت بزرگی گردید. صد هاهزار نفر از مردم مجبور به ترک شهر شدند. حملات سلاحهای ثقیل شهر را به ویرانه مبدل کرد صدها نفر به شهادت رسیدند و جسد دهها نفر هنوز هم در زیرخاك و خشت عمارات ویران شده باقیست و کسی قادر نشده است آنرا بخاك بسپارد.

بدنبال این جنگ خونین گروهی از قوماندانان اطراف شهر کابل تلاش هائی را بمنظور ایجاد صلح بین طرفهای جهادی آغاز کردند و مولوی جلال الدین حقانی قوماندان معروف نیز این تلاش ها را با عضویت خویش درین شورا قوت بیشتر بخشید.

شورای مصالحتی که به اینگونه بوجود آمد اکنون وسعت بیشتر یافته و عده ئی از علمای محترم و سایر شخصیت های مصلح را نیز شامل شده و این شورادر طول هفته های گذشته جلسات متعدد با رئیس جمهور استاد ربانی، احمد شاه مسعود، و حکمتیار داشته است. خواست شورا از حکمتیار و ربانی این بود که هر دو طرف برای حل مشکل موجود بین شان به این شورا صلاحیت کامل بدهند. سر انجام جانب دولت به شورا صلاحیت کامل داد تا در رابطه با حل مشکلات فعلی کشور آنچه را به خیر و صلاح اسلام، جهاد و کشور باشد فیصله نماید و جانب دولت به این فیصله ها احترام خواهد گذاشت و به آن عمل خواهد کرد.

شورا عین خواست را با حکمتیار مطرح نمود آقای حکمتیار خواست قبلی خود و ملیشه ها مبنی بر استعفای استاد ربانی از ریاست جمهوری را تکرار کرد اعضای شورا به وی گفتند که هر چند استاد ربانی بخاطر مصلحت کشور حاضر است هر فیصلهء شورا را بپذیرد ولی شورای مصالحتی استعفای رئیس جمهور را در چنین شرایط نه تنها به خیر کشور نمی داند بلکهٔ آنرا توهین به حیثیت و اعتبار مجاهدین می شمارد. البته شورای مصالحتی اذعان دارد که دولت در گذشته مرتکب اشتباهاتی شده است ولی از آنجا که در جنگ اخیر ملیشه های دوستم پیشقدم بوده اند با استعفای استاد ربانی این ذهنیت در سطح ملی و بین المللی بوجود خواهد آمدکه با وجود پیروزی مجاهدین و بوجود آمدن حکومت مجاهدین، هرنوع تغیر و تحول در افغانستان هنوز هم با سر انگشت کمونیست ها و بقایای رژیم سابق می درجد آنها بودند که نجیب را سرنگون کردند و اکنون هم همین ها هستند که فشاری که از طریق جنگ بر دولت وارد کردند دولت مجاهدین را قبل از تکمیل موعد مقرر آن مجبور به استعفا نمودند والبته حکومت انتقالی که بعداز این جریان نیز بوجود می آیدخواست ملیشه ها بوده است در تمام این تحولات، مجاهدین فقط نقش دنباله رو و آلهء دست بقایای رژیم سابق را داشته اند بنابر این خیر و صلاح کشور و مجاهدین درین است که حکمتیار از این خواست خویش صرفنظر کند و تا چهار و نیم ماه آینده که مدت تعین شده برای ریاست جمهوری استاد ربانی است انتظ بکشد. اما خواست های دیگر حکمتیار از جمله سپردن امنیت شهرکابل به قوماندانان اطراف شهر کابل و بیرون کردن سلاح های ثقیل طرفین از شهر ونواحی اطراف آن را جانب دولت رد نمیکند البته این پروسه نیز احتیاج به زمان دارد تا نیروئی از شهر بیرون گردد و نیروی بدیدی جای آنرا بگیرد. انجام چنین پروسه به صلح و آتش بس نیاز مند است که باید طرفین به آن عمل کنند.

بیرون شدن نیروهائی که از شهر کابل نیستند در قدم اول شامل ملیشه ها میشود ولی آقای حکمتیار به آن دلچسپی نشان ندادند و درمواردی که شورای مصالحتی روی چنین مسایل تاکید نموده واز حکمتیار خواهان صلاحیت میشود تا چنین موارد در فیصلهء نهائی شورا گنجانیده شود وی میگوید که من موافقم ولی شورا باید رای موافق شورای همآهنگی را هم حاصل کند! این سخن وی به آن معنی است که قوماندانان و کسانیکه در طول چهارده سال علیه کمونیست ها و مزدوران داخلی روس جهاد و مبارزه کرده اند امروز باید به نزد نماینده های دوستم بروند و رای موافق آنانرا دراین فیصله بگنجانند کاری که هیچ مجاهدی حاضر به قبول آن نیست.

یکی از افراد مصلح وقتی چنین توصیه ازجانب حکمتیار رااز زبان خودش شنید بروی انتقاد نمود و ملیشه هارا به خندق پر از آب گندیده تشبیه نمودکه حکمتیار کرسی اقتدار خودرا در کنار آن نهاده است. حکمتیار در برابر این انتقاد عکس العمل خشم آلود نشان داده و خطاب به وی گفت:

برادر فلانی! برای تو بهتر است که به پشاور بر گردی در همانجا چکر بزنی! تورا به این کار ها غرض نیست!

تلاشهای حکمتیار هر چند برای وادار ساختن شورای مصالحتی به مذاکره با ملیشه ها بی نتیجه مانده است ولی همین پا فشاری موجب گردیده که کار این شورا به تعویق افتد و بعضی از اعضای شورا علناً می گویند که اگر این تلاش ها نیز به ناکامی بینجامد مسئول آن فقط حکمتیار است وبس.

شیر می غرند چون وامی رسی بزغاله اند

یکی از خصائص استعمار اینست که چاکران خودرا بصفت نیرویی مردمی و شکست نا پذیر و قوی معرفی می کندو با تبلیغات مسلسل چنان خوف ووحشت ایشان را در دلها جاگزین می سازد که مردم گمان می کنند باید با این بلای آسمانی بسازند ودرجهت نجات خویشتن تلاش ننمایند که بیهودهء است وره بجایی نخواهند برد و جز تلفات و خسارات و نابودی خود شان نتیجه یی نخواهندگرفت.

کودتای کمونستی هفت ثور ۱۳۵۷ توسط مشتی از کمونستهای جنایتکار و به مداخلهء روسها و در غفلت کامل ملت صورت گرفت و کودتاچیان آنقدر در بین ملّت منفور و آنقدر ضعیف وناتوان بودند که از همان لحظات نخستین آن فاجعه، سیل مشاوران روسی به افغانستان سرازیر گردید تا چاکران تازه بقدرت رسیدهء ماسکورااز خطراتی که قدم به قدم ایشان را تعقیب می نمود محفوظ نگهدارند و ازهمان نخستین روزهای کودتا قیامهای خونین علیه کمونستهای دست نشاندهء ماسکو در سرتاسر کشور آغاز گردید و رفته رفته به جهاد همه گیر و فخر آفرینی تبدیل شد.

ضعف کمونستها و شجاعت و دلیری و تصمیم قاطع ملت مبنی بر ریشه کن ساختن کمونزم و کمونستها از کشور و نفرت شدید مردم از گرگان خون آشام خلق و پرچم، شواهد انکار ناپذیری بودکه هرانسان صاحب عقل را بر آن می داشت تا به سرنگونی کمونزم در میهن آزادگان یقین کامل داشته باشد، ولی روسها و اجیران خلقی و پرچمی شان با طمطراق از شکست ناپذیری وغیر قابل برگشت بودن کودتا حرف می زدند ومی گفتند انقلاب ثور شکست ندارد و بزودی دشمنان خلق و اشرار شکست میخورند و نابود می شوند!!

اما گذشت زمان نشان دادکه در برابر طوفان انقلاب اسلامی، نه تنها کودتای شوم هفت ثور بلکه امپراطوری آتش و آهن ماسکو نیز با همه ساز و برگ وحشتناك نظامی اش تاب مقاومت ندارد و آنهمه تبلیغات و پروپاگند شیطانی بلاك کمونزم که پا بپای یورش وحشیانهء نظامی شان بر افغانستان صورت می گرفت، جز سرابی بیش نبود ونتوانست خانهء عنکبوتی کمونستهای کابل را به دژ تسخیر ناپذیر کمونیزم تبدیل سازد..و کمونزم همراه با اتحاد شورروی بزرگ(!) در گودال شکست و نابودی سرنگون شد!

یکی از نیروهایی که روسها برای حفاظت چاکران خویش در صحنهء کشتار ملت قهرمان افغان آورده بودند، نیروی ملیشهء های جنایت کار به رهبری رشید دوستم بودکه به ملیشه های جوزجانی معروف بودند و رژیم نجیب بعداز فرار قوای روسی ازافغانستان به این نیروها متکی بود وحیات خودرا مدیون ایشان می دانست.

این ملیشه هارا روسها ازجانی ترین ،خونخوار ترین، بد اخلاق ترین و فاسد ترین افراد برگزیده بودند و می پنداشتند که هر چه این افراد وحشی تر وجانی تر و بی دین تر باشند بهمان اندازه شجاع تر و دلیر تر و بی باکتر می باشند، اما غافل ازینکه چنین عناصر تنها در برابر مردم بی دفاع شجاع و دلیر و گستاخ و با جرئت می باشند اما در برابر سپاهیان اسلام بزدل تر وجبون تر از ایشان کسی وجود ندارد زیرا این ها ایمان ندارند و نمیتوانند در برابر لشکریان با ایمان خدا مقاومت کنند.

با آنکه شکست های پی در پی ملیشه های دوستم در زمان حکومت نجیب، در تمام جبهات از خوست تا فاریاب و از قندهار تا هرات و بدخشان حقیقت شکست ناپذیری آن ملیشه هارا که روسها و رژیم نجیب تبلیغ می کردند، بر ملا ساخته و بهمگان این حقیقت ثابت شده بود که ملیشه های جنایت پیشهء دوستم در چوروچپاول و قتل و غارت و دزدی و شراب نوشی و قمار بازی شکست ناپذیر اند و در میدان جنگ جز شکست و ذلت و رسوایی و فرار دستاوردی و کمالی ندارند، اما بازهم

ص(۱۱)

د کمونستانواود هغو د ملیشو وانی شلیدلی دی

له هغی وروځی را په دی خوا چی د کمونستانو د واکمنی کمبله په افغانستان کی راټول شوی، دا زموږ ددین اوهیواد سوگند خوړلی دښمنان د مجاهدینو د واکمنی پر ضد، د وحدت او بووالی پر ضد او بالاخره ددوی د حکومت پر ضد ډول ډول توطیی او دسیسی کوی، د مجاهدینو په منځ کی اختلافات تشدید وی په خپل منځی جګړو کی کله د کتلست او کله داکتیف په توګه برخه اخلی - په دی وروستیو کی چی دوی د مجاهدینو د خپل منځی اختلافاتو له لامله کافی ډاډمن شوی وه - په داسی حال کی چی ځینی مجاهد، نیمه مجاهد او مشکوکی ډلی،ټپلی یی هم ځان ته راکاږلی وه - د یوی داسی فتنی په ژبغړاندولو بریالی شول چی که چیری د هغی د مخنیوی لپاره جدی اقدام ونشی - نو زموږ هیواد او هیوادوال سره له دی چی څوارلس کاله د جنګ په بیټو کی سوی، وریت شوی او ستی شوی - نور به هم وریت اوستی شی او د یو داسی هیبتناك او تورتم مستقبل په لور به ګرندی ګامونه آخلو چی خدازده نور به څه مصیبتونه زموږ بلد تی ته ولاړ وی ... دا چی هیوادمو ویجاړ شو، دا چی مبندی موبوری شوی .. موږ هر څه له لاسه ورکړل په عمومی ډول داسی حالت به پر موږ،سبوری کوی چی د وحشت نمونی یی همدا اوس اوس د افغانستان په ګوټ ګوټ کی موند لای شی ... هیڅوك دا تضمین نشی کولای چی بو کور، کهول به د لسو دقیقو لپاره ددی وحشت له تاړاته په امن کی پاتی شی. مال یی خوندی وی، سر یی په امن کی وی او آن ناموس یی د بی عفتی له خطره بچ پاتی شی ...

مجاهدینو د خپلی واکمنی په لومړیو شپیو کی داسی انګیرل چی کمونستان به د مجاهدینو له پلوه اعلان شوی عفو بنه وګڼی او نور به د هیواد دورانو لو جرئت نه کوی، خو حالاتو وښوده چی ددوی زړونه لا ددی ملت په وژلو ،یی کوره کولو او تباهکولو نه دی یخ شوی، دوی په لومړی پلا به یوی ورکی سره غوښتل د هیواد په سیاسی چارو کی ځان مطرح کړی، خو چی کله هغه ونشونو دا بله خوابی ونول او د جدی په ۱۱ نیټه د دولت پرتاسیساتو، نظامی هډو او د کابل پر نورو ولسی سیمو باندی یی بریدونه ښځ کړل په دی نیت چی د کابل په نیولو سره به نور دی موجودی وضعی ته خاتمه ورکوی او دوی به یوځل بیا د هیواد سیاسی واګی په خپل لاس کی نیسی - مګر د جنګ له پیل نه څو شپیی پس پته ولګیده چی ددوی ټولی ناروا غوښتنی له خاورو سره خاوری شوی - ستراتیژیکی سیمی یی له لاسه ورکړی او ددوی د برڅواکونه تس نس شوی دی - ددوی د ماتی لومړی پړاو بشپړ شواو دوی ونشوای کړای آن له خپلو مرکزونو څخه بهرشی - د هیواد په مختلفو برخو کی ددوی پر ضد جهاد ګرم شو - دوی خپلی ټولی قوا دی د کندز په لور متوجه کړ - کندز یی ونیو مګر د څو ورځو نه وروسته مجاهدینو دتالندی او بریښنتا په شان ددوی پرځالو پر یو تل ...٥٧٠٠ تنه ګلم جم ملیشی د مجاهدینو په اسارت کی راغلل او او ۱٥٠ تنه نور کسان یی ووژل شول - اوس ددی ماتی په نتیجه کی د کمونستانو او د هغوی دملیشو وانی شلیدلی دی چی نور به څه کوی ؟بل دا چی د کمونستانو ملیشی آن د خپلو متحدینو په سیمو کی هم په مرموز ډول وژل کیږی - او نه پوهیږی چی د چاله پلوه وژل شوی - دا یوه بله اندیښنه ده چی دوی ته پیدا شوی .. مګر با خبره منابع وایی چی دوی د هماغو مجاهدو ځواکونو د مسلحو کسانو په وسیله ترور کیږی چی د قیادت په سطحه ائتلاف او هم آهنګی ورسره لری - موږ هیله من یو چی کمونستان خپل دا وروستی چانس چی ځینی مجاهدین یی په خوا کی ولاړ دی هم له لاسه ورکړی - مجاهدقوتونه سره متحد شی او د کمونستانو کمبله د همیش لپاره زموږ له هیوادنه راټوله شی ...

مونږ له ربانی، مسعود او حکمتیار سره معامله نه کوو زمونږ معامله له خدای(ج) سره دی،که د انسانانو سره مو معامله کولی اوس به نامیده و. زمونږ معامله له خدای (ج) سره او زمونږ جهاد د خدای له دښمنانو سره دی

درنولوستونکو دادی دلته د اتحاد اسلامی د مجاهد امیر د هغه عالمانه وینا متن درته وړاندی کوو چی نوموړی د هجرت کلی په جامع جومات کی د رمضان میاشتی په ٢٩ نیته د هیواد د روانو حالاتو په هکله آورولی وه :

الحمدلله وکفی والصلاة والسلام علی سیدنا و نبینا ومولینا محمد المصطفی و علی آله و صبحه اجمعین ومن اهتدی بهدیه الی یوم الدین .

اما بعد :

فقد قال رسول الله صلی الله علیه وسلم : اذرأیت أمتی لایقولون للظالم منهم أنت ظالم فقد تودع منهم .

حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایی چی که زما په امت باندی داسی یوه ورځ راغله چی په دوی کی دا جرئت نه و او داتوان ورسره نه و چی ظالم ته ووایی چی ته ظالم یی،نو ددی امت سره خدای پامانی شوی ده یعنی دا امت ددی وړنه ده چی د امتیت په چوکاټ کی پاتی شی. په بل مبارك حدیث کی رسول اکرم (صلی الله علیه وسلم) فرمایی چی « من مشی مع الظالم لیقویه وهو یعلم انه ظالم فقد خرج من الاسلام »

څوك چی ظالم سره ، سره دشناخته ، سره له دی چی پی یی ژنی چی دا ظالم ده ورسره روان شی د کمك په قصد ، دده دپلی دزیاتولو په خاطر ، دده د تایید په خاطر په تحقیق سره دا سړی له اسلام نه وتلی ده .

وروڼو ! د کابل د جریاناتو په ارتباط چی تقریبا دوه کاله وشو چی زه د حوادثو په متن کی واقع یم او د جریاناتو کره وړه می له نږدی لیدلی دی ، څوك چی له جریاناتو لری وی هغه ته قضاوت سخته ده کله کله په قضاوت کی بی لاری لاړشی خوزه به د کابل د حوادثو د متن څخه تاسوته څه حکایتونه وکړم نرڅو وشی کولای ددی په رڼا کی د اسلام د اصولو په اساس خپل موقف او خپل دریځ غوره کړی او خپل اسلامی مسئولیت د خپل وطن ، جهاد ، دین او عقیدی په رابطه اداکړی او تاسوته معلومه ده چی د اتحاد اسلامی افغانستان تنظیم نه د پادشاهی تنظیم دی نه د کوم جاه اومنصب تنظیم، یواځی او یواځی د اسلام تنظیم دی او له ابتدا نه تراوسه یی په دی کی هڅه کړی ده چی په دی ملك کی اسلام راشی ، په دی ملك کی د قرآن حاکمیت وی او په دی ملك کی د مجاهدینو په لاس اسلامی نظام و دریږی په زغرده ویلای شم چی اکثره طرحی د حکومتونو او دروغو جوړو طرحی او قرار دادونه زما په لاس لیکل شوی او تاسی هلته لیدلی دی چی مونږه ددی تنظیم لپاره

نه تنها چی په کوم ویش باندی چاسره لاس او گریوان شوی نه یو؛ بلکی کوم ویش چی زموږ په برخه شوی هغه مو هم له ځان سره نه دی اخیستی کوشش موکړی دی چی مجاهدین په خپل مینځ کی جوړ شی ، سره روغه وکړی؛ چی ددوی د اختلاف په نتیجه کی دا جهاد او ددی جهاد ثمری ضایع نشی ، دا قوم له تباهی سره مخ نشی ، لکه دا اوس چی مخامخ ده کله هم چی دویش او قدرت مسئله منځ ته راغلی ده مونږ پوره تنازلات په دی کی کړی او دا کوشش موکړی چی دا خلك سره نږدی کړو په ابتدا کی تاسوته بهتره معلومه ده چی په ټول افغانستان کی دغه آوازه توده وه چی په دی ملك کی دوه قوی تنظیمونه دی دا نورتنظیمونه خو چا یا دول هم نه ، یا به یی ویل چی حزب ده او یا جمعیت خو مونږه همدی خبری ته په احترام سره او ددی لپاره چی دا د کشمکش غټی نقطی قانع کړو کله مو چی د موقت حکومت فارموله جوړوله یوه تنظیم ته مو ریاست دولت ورکړ او بل تنظیم ته مو صدارت؛ بیا مو چی کله ولیدل چی په دی باندی هم جوړه رانغله بیا مو د ریاست دولت سره وزارت دفاع هم غبرگه کړه او هلته مو له صدارت سره وزارت داخله کیښوده موږ فکر کاوه چی په دی به آرامي راشی ، داخل کی سوکالی راشی او د اسلامی نظام د قائمیدو زمینه برابره شی خومتاسفانه چی په دی باندی هم آرامی رانغله ، افغانستان پښیر هم نه ده چی چاقومو اخیستی وی او په منځ کی مو دوه نیمه کړی وی یو قسمت مویوی خواته او بل قسمت مو ببلی خواته ورکړی وی تر څو دا خلك آرام شوی وای . ددی کار امکانات هم نه و له کومی ورځی چی مونږ افغانستان ته تللی یو ترننه چی دا دتاسو په مخ کی ولاړیم مونږ په مسلسل ډول تلاش کړی دی چی دوه کاره تر سره شی یو دا چی دمجاهدینو ترمنځ روغه جوړه راشی بل دا چی د ملحدو بی دینواو مرتدو عناصرو پرخلاف وسله پر ځمکه کښینښودل شی بلکی جهاد د هغوی پر خلاف دوام اواستمرار پیدا کړی نو په دی اساس که مونږ حکم وکړو چی هلته جهاد نه ؤ دا به د بی خبری په مفهوم وی، مونږ په دا شلو میاشتو کی هلته جهاد کی پاتی شوی یو په دا شلو میاشتو کی د اسلام په خاطر د دین او عقیدی په خاطرمونږ،توپك په ځمکه نه دی ایښی سره ددی چی د

پاد شاهی په عقیده نه ؤ سره ددی چی د ریاست په عقیده نه ؤ خو په دی جهاد مو زړه خوږیدلی په دی ملك مو زړه خو ږیدلی دی او په دی خلکو او دی ولس موزړه خو ږیدلی دا گلم جمان چی کله د حکومت تراړخه هم ولاړ و زموږ جهاد د هغوی پرخلاف روان و داکوم خلك چی کابل کی اوسیدلی دی هغوی ته دا واقعیت معلوم دی چی د میدان هوایی نه ، دخیرخانی نه،د دارلامان نه،د حزب وحدت تر پوشش لاندی څه د الحاد او کفر قوتونه چی و زموږ پرخلاف یی راکښونه چلول ، یوه ورځ هم زموږ او د دوستم ترمنځ د کومی ورځی نه چی افغانستان نه تللی یو سوله ، روغه ، جوړښت او معامله نه ده راغلی؛ بلکی ددی نه ور هغه خوا دا د خدای جل جلاله لطف اواحسان دی چی د تاسو په نمائنده گی ددی تنظیم په نماینده گی زموږ لاس تراوسه د کافرله لاس سره دروغی جوړی او ستړی مشی په عنوان نه دی وړاندی شوی ، ددی مدت په طول کی لکه څنگه چی مونږ پخوا له تګه کابل ته د جینوا د موامری پر خلاف ولاړوو؛ لکه څنگه چی پخوا له تګه کابل ته د بینن سیوان د ملل متحد د موامری پرخلاف ولاړوو ، کابل ته هم چی تللی یو هماغه موصف ده ، هماغه مو موقف ده او هماغه دریځ مو دی چی په هغه کی تراوسه بدلون نه دی راغلی ، مونږ په هغه ورځ هم د دوستم پرخلاف وو په کومه ورځ چی د استاد احمد زی شهید په فاتحه کی انجنیر حکمتیار خپله غیږه خلاصه کړه اوویی ویل چی شمال کی چی کوم حرکت روان شوی دی او کوموخلکو چی خپل بیلتون له حکومت سره اعلان کړی زموږ غیږی هغوی ته خلاصی دی هلته یی اعلان وکړ چی زه به د استاد احمد زی شهید قاتلان نه پریږدم او زه به انتقام تری نه واخلم ، استاد احمد زی د هغه د شرافت ، اهلیت ، تقوا او دیانت سره په دی ملك کی یو فرد و ده هلته چیغی وهلی چی زه ددی فرد انتقام خامخا اخلم خو هله یی په عین مجلس کی د ټول و لس د قاتلانو لپاره عفوه اعلان کړه،د یوی خوایی د یوه فرد د شهادت د انتقام لوړه وکړه؛ویل یی قسم په خدای دی چی زه به دا استاد احمد زی انتقام اخلم او له بلی خوایی د ټول ملت د قاتلانو او دټول ملت د دښمنانو او ټول امت دددښمنانو په مقابل کی خپله عفوه اعلان کړه او غیږه یی داسی خلاصه نیولی وه ، ویدیو فلمونه یی اوس هم موجود دی چی زموږ غیږه دوی ته خلاصه ده ، مونږ په هماغه ورځ هم چی دوی د دوستم په نامه لس زره کسان په کابل کی ووژل او ویل یی چی زه بل چاسره

نه جنگیږم ، دوستم سره جنگیږم، د دوستم ملیشو سره جنگیږم په هماغه ورځ هم مونږ د دوستم پرخلاف وو او مونږ په دی پوهیدو چی دا جنگ د دوستم سره نه ده ، دا جنگ د چوکۍ لپاره ده دا جنگ قدرت ته د رسیدو په خاطر ده او کنه دا اوس حاجی صاحب دین محمد له دی ځایه را جگ شو او انجنیر احمد شاه به هم په همدی کونجو کی چیرته ناست وی، کله چی مونږ کابل ته لاړو حکمتیار صاحب ویل چی دا دوه شیه زه قبلولی نشم ! ماورته وویل څه شی نشی قبلولی؟ ویل یی : یو د مجددی منل ماته داسی دی لکه د امریکا بش چی ومنم دا زه نشم منلی ما وویل : بل څه شی دی؟ ویل یی : ملیشه زه په کابل کی منلی نشم زه او حاجی صاحب دین محمد کیناستو خپل منځ کی مو

استاد ربانی ونکړی،ماویل چی منی یی ویل یی که ویی نه مانه ؟ ماویل چی زه ددی خلکو په مخ کی تعهد درکوم چی د تاسره به ولاړ یم ته دی ته چمتو شه زه به تاسره ولاړیم ویل یی چی ورشه ،زه ولاړم استاد ربانی او مسعود دواړه می ریشخوروته راوستل دی یی ورروستی هغوی دده کورته راوستل ، استاد دده په مخ کی هم وویل چی راځه زه تیاریم چی د گلم جمو پر خلاف جنگ پیل کړو ، ده ویل چی سمه ده او مجددی خو هغه دی په خپله لاره روان دی اته ورځی بعد استاد ریاست شروع کیږی او چی دا شروع شو د گلم جمو پرخلاف به مونږ جنگ اعلانوو ، دلته یو وار – ده غږ وکړ چی زه خو داستاد ریاست هم نه منم،ما ورته وویل چی انجنیر صاحب تاسره خو دوه خبری وی

مونږ په هغه ورځ هم د دوستم پرخلاف وو په کومه ورځ چی د استاد احمد زی شهید په فاتحه کی انجنیر حکمتیار خپله غیږه خلاصه کړه اوریی ویل چی شمال کی چی کوم حرکت روان شوی دی او کوموخلکو چی جبل بیلتون له حکومت سره اعلان کړی زموږ غیږی هغوی ته خلاصی دی هلته یی اعلان وکړ چی زه به د استاد احمد زی شهید قاتلان نه پریږدم او زه به انتقام تری نه واخلم ، استاد احمد زی د هغه د شرافت ، اهلیت ، تقوا او دیانت سره په دی ملك کی یو فرد ، و ده هلته چیغی وهلی چی زه ددی فرد انتقام خامخا اخلم خو هلته یی په عین مجلس کی د ټول و لس د قاتلانو لپاره عفوه اعلان کړه

خبری وکړی مولوی صاحب محمد نبی محمدی سره مو هم خبری وکړی مونږ.د استاد ربانی او مسعود سره هم خبری وکړی بیا دحضرت صاحب اته ورځی پاتی وی وخت یی پوره کیده، ورغی چهار آسیاب کی حکمتیار سره یی ولیدل ماورته وویل چی حکمتیار صاحب ویل چی زه ملیشه او مجددی نه منم .. او بیا زما او د هغه کتنه وشوه، .. ماویل چی دوه انتقاده دی درلوده د جنگ د ختمیدو لپاره دی دوه شرطه درلوده یودا چی تا مجددی نه مانه بل دا چی تا ملیشی نشوای زغملای نو راځه د مجددی وخت پوره ده ،اته ورځی وروسته روان دی داملاحظه خو دی لاره په خپله مخه پسی؛ پاتی شوه یوه ملیشه د دوستم او گلم جم نوراځه زه ، ته استاد ربانی ، مولوی صاحب خالص اومولوی محمد نبی به لاس ورکړو چی ملیشه به په گډه وشړو هغه وویل چی زما حضور ته څه ضرورت ده ما ویل هغه خلك وایی چی که دی راسره ولاړ نه وی او مونږ له ملیشو سره جنگ شروع کړو دی یی په غیږ کی نیسی او زموږ پرخلاف یی بیا استعمالوی ویل یی چی دا کار به

مجددی دی نه مانه بل دا چی گلم جم دی نه مانه او تا راته وویل چی استاد به قانع نشی چی د گلم جمو پرخلاف خبری وکړی او په پیښور کی اتفاقیه شوی ده نوته ولی اوس دا خبره کوی؛ ویل یی قسم په خدای دی که راباندی وی منی دا هم نه منم، ماویل چی څه وکړو ویل یی سره به کینو د بل رئیس په حصه کی په فکر کوو بیا به د گلم جمو پرخلاف دریږو، ماورته وویل چی انجنیر صاحب څوارلس کاله مونږ په پیښور کی هڅی وکړی د یو قاید په سرمو اتفاق رانغی ، هلته خو د کابل مسئولیت د نجیب او ببرك په غاړه ؤ اوس خو د کابل مسئولیت د مجاهدینو په غاړه کی دی څنگه توقع لری چی مونږ به په څوارلس ساعتو کی وشو کولی په یوه رئیس باندی اتفاق وکړو خلاصه دا چی هر څه مو ورسره وکړه ویی نه منل ، سبا ته زه ، انجنیر صاحب احمد شاه او حاجی صاحب دین محمد دا دری واړه ورغلو دده ځای ته ، بیامو ورته خبری وکړی چی انجنیر صاحب ستا دوه انتقاده و ، مجددی په خپل لور روان ده او گلم جمو پرخلاف به سخت جنگ کوو، ده ویل چی زه بی

الله جل جلاله زموږ خبری اوری قسم په خدای دی چی دا جنګونه مانه دی کړی څلور جنګه حزب وحدت زما پر خلاف وکړه ما به جنګ نه غوښته نه پری خبروم نه می پلان جوړ کړی و نه یی په شروع باندی خبروم. راباندی تحمیل شوی .

نه منم آخر کی مو ورته وویل چی لاس پورته کړه دعا وکړو لاسونه یی سره پورته کړل ، ماویل چی هر څوك دی ملك کی اسلام غواړی او په مسلمانانو یی زړه خوږیږی الله جل جلاله دی کامیاب کړی او څوك چی خپل شخصی هوا او هوس ته په اسلام ترجیح ورکوی قدرت ته د رسیدو په خاطرمسلمانان زوروی خدای جل جلاله دی هلاك او تباه کړی کله می چی دا خبره وکړه لاسونه یی کوز کړه او آمین یی ونه ویل دا دوه کسان زما شاهدان دی په دی باندی یی هم اکتفا ونکړه او سبا ته یی هیئت ولیږه مجددی صاحب ته ، دا مجددی صاحب ژوندی دی تاسو ترینه پوښتنه وکړی ، هیئت یی وروليږه پیر ګیلانی صاحب هم ژوندی دی تاسو ترینه پوښتنه وکړی ، مجددی ته یی هیئت ولیږه چی ځان ټینګ کړه زه د تاسره یم ، هغه سړی چی ده پرون ورته ویلی چی زه بوش منلی شم دا نشم منلی، ده ورته هیت ولیږه چی ځان ټینګ کړه زه تاسره یم. پیر صاحب ته یی هیت ولیږه او ورته وی ویل چی مجددی ته ووایه چی ځان ټینګ کړه زه ورسره یم نو هلته موږ کیناستو پروګرام مو جوړ کړ اتفاقیی زما په لاس لیکل شوی او د مجددی دوه میاشتی وخت ؤ ما مجددی ته احوال ولیږه چی له ارګه ووځه سبا می بیا هیت ورولیږه چی وځه! بیا یی ویل چی نه وځم ، چی په کومه ورځ یی وخت پوره کیدو نفر می ورولیږه چی تر لس بجو به وځی ، ... مزار ته تللی و او هلته یی دوستم ته وویل دا دوه ترفیع تا ته نه اخوانیانو درکړی نه وهابیانو درکړی دی ، نه فلانیانو درکړ، نه فلانیانو درکړی دا دوه ترفیع ګانی تاته خدای جل جلاله په نصیب کړی دی چی ته ددی اهل وی مستحق یی وی ، ځکه مو دا ترفیع درکړی هماغه و چی مجددی له ارګ نه ووت موږ بیا ورغلو حکمتیار ته دا حاجی صاحب دین محمد راسره

ومیدان ته ورغلو ورته مو وویل چی انجنیر صاحب د خدای جل جلاله په خاطر راځه چی لاس سره یو کړو دا ګلم جم او دا کمونستان له دی ښارنه وباسو خو تنها یو شرط لرو هغه داده چی ګلم جم به له ښاره وباسو او د تنی ملګری به چهار اسیاب کی نیسو او وباسو به یی موږ په شهرنو کی چی کوم کمونیست نه غواړو په چهارآسیاب کی یی هم نه غواړو ده ویل چی نه دوی یی نه کوی ! راځی چی په زور یی موږ اوتاسو وباسو! ماویل چی په زور یی کوی! کابل سره جنګیږی ! دا د کابل حکومت ړنګوی ! بل حکومت دځه شی ده راویی ښیه چی وی ګورم که دوی نه موخوښ شو چی زه هم درسره ملګری شم ! مولوی صاحب عبدالقدوس به دلته چیرته

ناست وی په دی مجلس کی ده راته وویل چی کله موکابل سقوط کړ هماغه وخت کی به بیا په دی باندی خبری کووما ورته وویل چی یوی مجهولی فضا ته موورته باسی چی کله کابل سقوط وکړ د ارګ په مخ کی به ماته هم توپك راواړوی خو که نقشه درسره وی رامیدان ته یی کړه او چی که وظیفه دی اخیستی وی چی په دی ملك کی استقرار رانشی په دی ملك کی حکومت جوړ نشی په دی ملك کی اسلامی نظام رانشی موږ پری پوه کړه چی درباندی پوه شو .

بالاخره یی موږ سره فیصله وکړه چی ځی تر دریو ورځو تاسو له استاد سره خبری وکړی که دی ته آماده شو چی ګلم جم یی وایسته او کمونیستان یی لری کول بیا به خبری وکړو دری ورځی مو وخت وغوښت دری ورځی پوره کیدلی دریمه ورځ لا پوره شوی نه وه چی ماته یی مخابره وکړه چی زه خو جنګ کوم ما ورته وویل چی دری ورځی پوره شوی نه دی کنه ، خو هغه په عوض ددی چی غوږونیسی د هماغی ورځی په ماسپیسن یی کابل باندی جنګ شروع کړ چی د هماغه جنګ په نتیجه کی اوه زره کسان ولاړ ، څوك وو؟ پردی زامن ؤ ، پردی خلك و وایی ځمکه هغه سوزی اودردیږی چی اور پری بلیږی دوی باندی اوربل نه ؤ پس له دی جنګ کرار شو ، موږ په طول ددی مدت کی دا کوششونه کول چی جهادی تنظیمونه سره متفق کړواو اسلامی حکومت جوړ کړو امن راولو جنګ پای ته ورسوو

خو ددغو کوششونو په نتیجه کی زموږ د صف دوه زره کسان شهیدان شول ما خود مزاری پلار نه ووژلی چی ما سره یی جنګ کاوه ما خو د دوستم پلار نه ووژلی چی ما سره یی جنګ کاوه نه د بابا جان اونه د مومن ، هغوی لیدل چی دا سړی سوله او روغه کی مندی رامنډی کوی که سبا ددی خلکو په مینځ کی روغه راغله موږبه نه یو ، موږ په مرګ باندی محکوم یو هغوی په دی روغه او جوړه کی خپل مرګ لیده ددی لپاره چی موږ مشغول وساتی ددی لپاره چی موږ روغی جوړی ته وخت پیدا نکړو نو کله هم چی ما دا خلك کینولی هغوی راباندی حمله کړی ده زموږ دوه زره کسان په دی لاره کی تللی نه مو پادشاهی غوښته نه مو صدارات غوښته ، نه مو پیسی غوښتی ، نه مو بل څه غوښته ، یواځی دخدای جل جلاله په خاطر مو ددوی مینځ کی روغه کوله ، چی اسلام حاکم شی ملك کی استقرار راشی ، زموږ دوه زره کسان پکی لاړل پس له دی چی دده د صدارت موضوع مطرح شوه یوه لویشت ځای یی په افغانستان کی نه درلود چی هلته رئیس دولت سره کینی

او دا د خپل د صدارت کار شروع کړی ، پغمان ته راغی په داسی حال کی می پغمان ته راوغوښت او میلمه می کړ چی سلها تنه پغمانی ده وژلی ؤ حاجی نبی اولین قوماندان او اولین مجاهد د پغمان ؤ دده په تانګ باندی وژل شوی ، په خاطر ددی چی زه چهار آسیاب ته ورغلم دحزب ټوله اجرائیه راسره وه ، زه ورغلی وم چی دده او استاد ترمنځ روغه وکړم ده د اجرائیی په مخ کی ماته وویل چی استاد سیافه! هزاریو سره می لاس یوکړی له پغمانه به دی جګ کړم ما ورته وویل چی ګناه می همدا ده چی تنی راسره ده کمونیستان راسره دی ، بل کوم ظلم ده ، ته یی ووایه! ده ویل خیر ده همالته به پری پوه شی ما ورته وویل چی آشنا زه د روغی ، جوړی لپاره راغلی یم تاته عیب ده په کور کی دی ناست یم چی داخبری وکړی بیا دی چی پغمان نیوه وی نیسه « زه دی پلاړ ګنم ته می خولی پوری خاندی » هماغه و چی د میدان له لاری یی حمله وکړه څه بی ګناه معصوم عربان یی راخوځولی و د حاجی شیرعلم موضع ګانی یی ورونبودی اوورته یی ویلی وه چی دا د ګلم جم موضع ګانی دی کله یی چی موضع ګانو باندی ورو خیژول په سلها و تنه مجاهدین شهیدان شول پنځلس شل تنه بی ګناه عربان هلته مړه شول ،هغوی یی راوستی و ورته ویلی و چی دغلته د هزاریواو ګلم جموموضع ګانی دی په دی عنوان یی هلته راوستل اووی جنګول په کومه شپه یی چی جنګ هم شروع کړ د میدان لخوا ټانکونه یی راغلل او زموږ کوتی د کوتل په سرټو لی ړنګه کړی ماته ملګانو ویل چی څه وکړو ماورته وویل چی دا خل دی موضع شی خو جنګ مه کوی څلور نیمی بجی د ماز دیګر وی دولس بجی شوی تر دولس بجو یی موضع ګانی ویشتی خلك شهیدان شول ، زخمیان شول ما دوی ته ویلی چی یوه ورځ ده تیره به شی بیا یی یو هیئت راولیږه د کوتل سر ته ویل یی چی د اول خط قوماندانان دی راشی چی موږ تورن امان الله راغوښتی ده دی پوستی کی کینو روغه جوړه وکړو چی دا مسلمان کشی بنده شی نو دوی ماته په مخابره کی وویل چی ورشو د اول خط قوماندانانو ماورته وویل دا خلك غدار خلك دی مه ورځی همداسی می ورته وویل د پټی خبره نه ده بیا یی راته ویل چی موږ ته یی له جبیه یاسین شریف راوویسته او لاس یی پری کیښوده چی پردی یاسین شریف زموږ قسم وی چی موږ دروغی لپاره راغلی یو ماته یی ویل چی بیا ورشو کنه ماورته وویل چی مه ورځه بیا زه خوب وړی وم دوی پخپل سر ورغلی و هلته یی چی پوستی ته

بیولی ونه تورن امان الله و نه بل څوك دری څلور جلادان ولاړ ... یی متی پری تړلی واو کیبل یی ورته را اخیستی و په یاسین شریف یی لاس ایښی مسلمانان دی ، مسلمانان یی ځان سره نیولی کیبل ورته راواخیسته د ... یی ورته نیولی مخابره یی خولی ته ورته نیولی چی اول خط ته مخابره وکړی چی تسلیم شی هغه دمسلمان بچیان و، دومره ضعیف خلك نه ؤ مرګ یی قبول کړ خواخبره یی ونکړه خپلو ملګروته چی تسلیم شی ... واړه د کوما په حالت کی وو بعد له هغی دوی راوخوځیدل زموږ د سنګرونو په مخ شپه وه چی پیره دارانو پری غږ وکړ څوك یاستی څلور پیره داران ولاړ دی ویل یی چی خپل یو دوی فکر کاوه چی هماغه قوماندانان دی چی بیرته راغلل چی رانږدی شوی خبری به یی کړی وی او

وراندی نه یوتللی .

الله جل جلاله زموږ خبری اوری قسم په خدای دی چی دا جنګونه مانه دی کړی څلور جنګه حزب وحدت زما پر خلاف وکړ ما به جنګ نه غوښته نه پری خبروم نه می پلان جوړ کړی و نه یی په شروع باندی خبروم راباندی تحمیل شوی .

چی کله مودا خلك له افشارو نه جګ کړل له مجبوری نه دوی مخابره وکړه حکمتیارته ، هغه مخابره ټوله ثبت شوی چی ما سره کمك وکړی وایه ! ... وایی چی دا به وشی د هماغه ځای نه یی شروع وکړه دا د پغمان کلی یی ویشتل ، ویشتل ، ویشتل ترهغو پوری چی د خلکو چیغی یی پورته کړی او ددی فیرونو په مقابل کی یو متقابل فیر هم قسم په خدای دی که زموږ لخوا پرده شوی وی نه مو دی کړی ، ددی لپاره چی زموږ د

خو ددغو کوششونو په نتیجه کی زموږ د صف دوه زره کسان شهیدان شول. ما خود مزاری پلار نه ووژلی چی ما سره یی جنګ کاوه ،ما خو د دوستم پلار نه ووژلی چی ما سره یی جنګ کاوه نه د بابا جان اونه د مومن ، هغوی لیدل چی دا سړی سوله او روغه کی منډی رامنډی کوی که سبا ددی خلکو په مینځ کی روغه راغله موږبه نه یو ، موږ په مرګ باندی محکوم یو هغوی په دی روغه او جوړه کی خپل مرګ لیده ددی لپاره چی موږ مشغول وساتی ددی لپاره چی موږ روغی جوړی ته وخت پیدا نکړو نو کله هم چی ما دا خلك کینولی هغوی راباندی حمله کړی ده زموږ دوه زره کسان په دی لاره کی تللی نه مو پادشاهی غوښته نه مو صدارت غوښته، نه مو پیسی غوښتی ، نه مو بل څه غوښته ، یواځی دخدای جل جلاله په خاطر مو ددوی مینځ کی روغه کوله چی اسلام حاکم شی ملك کی استقرار راشی

دوی به پری پوه شوی وی نو دا څلور واړه یی شهیدان کړی زه دا د ګلبدین داسلام کیسی تاسی ته وکړم ددی لپاره چی سرمو پری خلاص شی دا څلور واړه یی هلته شهیدان کړی بیا بعد له هغی حاجی شیر علم قومانده ورکړی چی اوس یی وولی اوس نه تنها چی جایزه ده بلکی فرض او واجب ده ویشتل یی ، په دی وخت کی هغه د چهار آسیاب غږ و پوښتل یی چی کوم ځای ته ورسیدی دوی بیرته ورته وایی چی فلانی ځای ته ورسیدو همدا سی مه پخپل غوږ واوریده چی ورته وایی چی الله اکبر پر مخ ځی ته به وایی چی ماسکو ته ورننوځی! مادی پادشاهی نیولی؟ صدارت می در څخه قبضه کړی؟ تا غوندی می کمونیستان ځان سره ساتلی، قاتل می حمایه کړی؟ د بینن سیوان پروګرام سره روان شوی وم دا ملك مي خرڅ کړی دی؟ هیتونه می له نجیب سره په بغداد او لیبیا کی ناست و؟ کوم جنایت و چی موږ له تاسره کړی و؟ جنګ دی شروع کړ هغه کار نامی حتمی شوی موږ پخپل ځای ولاړیو

جهاد په تاریخ کی دا څوك ثبت نکړی چی موږ یو ډز هم ولو که پر متقابل باندی وی د هغو ګوندونو پر خلاف چی په جهادی اسلامی ګوندونو باندی مشهور دی چی د هغوی پر خلاف موکړی وی دا کارمونه دی کړی هغه معاملی هم ټولی تیری شوی دی مو دری ، څلور ځلی میلمه کړ پغمان کی رئیس دولت مو ورته راوغوښت ، وزیران می ، راوغوښتل اولینه کابینه یی ماورته دایره کړی ده دا یوه لویشت ځای یی په ټول افغانستان کی نه درلود چی د کابینی مجلس پکی دایرکړی داکابینه ماورته دایره کړه عزت می کړی احترام می کړی ، د ملك په خاطر نه دده په خاطر بلکی ددی لپاره چی دی ملك کی آرامی راشی سوکالی راشی ، خلك په خپل ژوند باندی پوه شی خو ده چی هرڅه وکړل هماغه هم تیر شول بیا بعد له دی دولت جګ شو دوستم یی میلمه کړ ، ما هغه وخت کی هم ویلی و اوس هم وایم چی بلکل یی بد کړی ، بلکل یی خلاف د اسلام او خلاف د شریعت یی کار کړی چی دوستم یی

هماغه وخت کی چی مختلفو جهتونو دوستم ته د راکړی ورکړی لاس ورکړی و ما په زغرده ورته اعلان وکړ چی مونږ په افغانستان کی د جنبش په نامه تنظیم نه پیژنو

ځان سره ساته ، خلاف د اسلام او شریعت کار وکړ ، که مونږ په دی کارراضی وای کومه شپه به مو کابل کی کړی وه،غیر له اولی شپی چی کابل ته رسیدلی یم بیا می شپه په کابل کی نه ده کړی'دا می خدای چل جلاله سره عهد کړی و تر څو چی گلم جم او کمونیستان له کابل نه ونه وځی زه به سنگرنه پریږدم او کابل کی به شپه نه کوم کله چی هغه راغی حکمتیار په بگرامیو کی کابینه دایره کړه'فیصله یی د کابینی واخیسته په اکثریت چی زه دوستم ته نوه وزارته ورکوم کله چی مونږ له دی کیسی خبر شو په هرترتیب چی و دوستم مو له کابل پسی واخیستی ، دوستم و دارشو چاورته احوال ولیږه چی د اتحاد تنظیم تصمیم درته نیولی همدا

کلی کی اوسیږی ښایی په دی مجلس کی ناست وی او زما خبری به اوری انجنیر قطب الدین او مجاهد نواړه ماته ویلی چی د خدای په خاطر دا زمونږ مشر ډیر ژروگوره چی په کوم بل اړخ باندی اوړی ځوکرتی یی راته عذر وکړ اوس دادی ورسره ولاړ دی ولاړ دی هو ! نوی ماته عذر وکړه چی دا زمونږ مشر ژروگوره چی کوم بل اړخ باندی به واوړی بیا به ملك کی نورمصیبتونه راځی ماورته وویل چی ورشی رایی ولی! نوی سبا ولاړل سړی یی راوسته"هغه ته مو ارغندی کی دا د میدان د کوتل پر لار هلته مو نوه خیمی ووهلی یوه خیمه کی سره کیناستو ، چی دا کیناستلو'ده راته وویلی دا ځلی به راسره دریږی !! سم به راسره دریږی ! ماورته وویل چی

هو دغه شی زما هیر شوی و دا مو پکی ولیکل بیا موروته وویل چی انجنیر صاحب دغه انتقادونه چی ته کوی قسم می ورته یاد کړی چی دا ټولی زما انتقادونه دی دا انتقادونه ښه دی دا اوس ماته شله دی چی د معاون په صفت راسره کار وکړه ما نه ده منلی خوزه دا انتقادونه لرم کنه اوس داسی چل وکړه ته وایی چی بانکونه یی لوټ کړل زه وایم جی داخبر،او دا شکایت باید زه وکړم ځکه هغه بانکونه لوټ کړل تاټول ملت لوټ کړ ، په سروبی کی دی ورته پاټك اچولی په میدان کی دی اچولی په چهار آسیاب کی دی هم آچولی هغه به بانکونه تلاشی کړی وی تا د ملت فرد فرد او حتی ښځی تلاشی کړی همدا سی ده کنه ؟ خلکو کابل ته تللی یاستی نوماورته وویلی چی دا شکایت خو باید زه وکړم لومړی راځه داسی کار وکړه چی دخپل ځان نه دیکتاتور مه جوړوه ! ځان نه مستبد مه جوړوه ! راځه ځوکسان ته وټاکه، ځوکسان به څه وټاکم یو گړ هیئت به فیصله وکړی چی جنگ کوو قسم په خدای ده چی زه به له تا نه مخکی په کابل باندی جنگ کوم خو دوی به د شریعت له مخی فیصله کوی که ویل یی چی فتنه ده څو غروته راځه نواړه به خو که ویل یی چی قضیه د مذاکری له لاری حل کړی دواړه به څو سیی ده ؟ ده ویل چی هو! په همدی مو دعا ده ما وی چی دعا وکړی په همدی باندی مو دعا وکړه،ما ویل : ستا د هیئت غړي ځوك دي ؟ ده وویل : انجنیر قطب الدین دی او مجاهد دی ، ما ویل زمونږ لخوا سید محمد ده موسی خان ده او جگړن سراج الدین ،ما ویل په همدی خبروبه له استاد سره هم وغږیږم ؟ وی ویل ورشه پری وغږیږه زه لاړم د پنجشنبی په ورځ له استاد سره می دده خبری مطرح کړی چی د شنبی په ورځ جنگ پیل کیږی زمونږ هیئتونه یوه ورځ ارغندی کی او بله ورځ بگرامیو کی کیناستل ، هیئتونه ژوندی دی دری دی خوا نوه هغه خوا هیئتونو په اتفاق سره دانظر تائید کړی ددغه هیت چی دده غړی هم پکی و په اتفاق سره یی هم نظر تائید کړی و هغه دا چی د ټول ولایاتو دی دری ، دری کسان بیا څلور کسان راشی راویه یی غواړو'نوی دی کینی قضاوت دی وکړی فیصلی دی وکړی، حکومت کی نوی تغیر او تبدیل هر څه چی راولی نوی دی راولی دا دگد هیئت فیصله ده زه لاړم استاد سره وغږیدم استاد ویلی چی ته کوم ځای وټاکه چی زه ته اوانجنیر حکمتیار سره کینو ، د جمعی په شپه چی بیرته راغلم ده ته می تیلفون وکړ ما ویل چی هیئتونو خو گډه فیصله کړی او زما او ستا کار لنډ شوی پس له دی په یوه صف کی ولاړیو استاد سره ماخبره وکړه استاد ویلی چی زه حاضریم هر چیرته وایی کینو، راځه استاد سره کینو ، کړ، بی ومنل د خبرو له لاری موضوع حل شوی وه

ښه او زما او ستا دهیئت مشترکه فیصله وتلی ده، په خواب کی یی راته وویل چی نه دا خلك روغه نه غواړی دا خلك د حزب اسلامی ورکیدل غواړی ! ما ورته وویل چی انجنیر صاحب ما اوتا خبری کړی زه تا وروليږلم هغو ویل چی کینو ده ویل چی نه ، نه زه خبریم چی دوی زما ورکیدل غواړی ماوویل ښه نو له ما سره ولی کیناستی؟ زه دی ولی وروليږلم هغوی راته ویل چی راځی کینو هیئتونه مو ناست دی ده ویل نه هغوی زما ورکیدل غواړی تیلفون یی کیښود سبا شپی ته ماته له کابل نه مخابره راغله چی حزب اسلامی نن شپه جنگ کوی ما بیاتیلفون جگ کړ په همدی شپه چی په سبا یی جنگ شروع کیږی ډیر و رونه په هغه کوته کی ناست و ما ورته وویلی چی انجنیر صاحب ، ده ویل چی هه ،

بلکل که په دی جنگ کی ته ځان حق په جانب هم وبولی اول خو حق په جانب نه یی فرضا که حق په جانب وی دخدای په خاطر په دی کابل کی نه ځوك برق لری نه ځوك سکاره لری نه ځوك کمپله لری نه ځوك لرگی لری نه نوډی لری نه او به لری په دغه ژمی کی دا خلك بیا کومی خواته کوچوی دا کومی خواته لاړشی دغه ټول مصلحتونه دغه رقتباری صحنی می ټولی ورته مخی کی کیښودی چی دا خلك ددی خلکو ناموس غیرت اوماشومانی کومی خواته لاړی شی دا اوس چی تاسو خیرخانی ته لاړشی په یوه جومات کی سل نوه سوه فامیله دی، یوکوټج کی پرده ده ښځه ناروغه ده او اولاد زیږوی بل کی پرده نیولی چی یوه ښځه وضع د حمل کی ده ، هلته دری څلور تنه ناست دی جنازه

توگه می ډیر عذر ورته وکړ دده ځواب راته دا و چی زه خو جنگ نه کوم نوی راباندی حمله کوی ما ورته وویل چی دی خواته ماته وضعه معلومه ده په تا ځوك حمله نه کوی ویل یی نه نوی راباندی حمله کوی بیا می ورته وویلی چی ددی خوا ضمانت به زه درته وکړم ولو که سم اعتبار پری نه لرم خو زه به یی ضمانت درته وکړم ویل یی چی نه نوی جنگ کوی ماته معلومه ده ما ویل گوره دا مخابره او دا نمبر د تیلفون که یز دریاندی وشو ماته مخابره وکړه زه به مداخله وکړم تیلفون می کیښود مخابری والا ته می وویل چی تاسو تحقیق وکړی چی څه خبری دی مخابری والا ویل چی دا سړی خو ټانکونه وړاندی کوی قومانده ده، ده پسی می شروع وکړه تیلفون کوم، مخابره کوم ، تردری بجو د شپی کیناستم ځواب یی راته رانکړ تر سهاره او دا د کابل والو ته می ویل چی تاسو به غم نه کوی دری بجی د شپی په ما باندی خوب غلبه وکړه ویده شوم څلور نیمی بجی وی چی راجگ شوم ما ویل څه چل ده ویل پی جنگ شروع شو، گلم جم له میدان هوایی مخ په ښار راوخوځیده له مکروریانو راوخوځیدل له بالاحصار او تپه مرنجان نه په ښار راکوز شول ، سبایی می په مخابره کی واوریدل چی دادی مونږ وزارت دفاع ونیوله ما قوماندانان راټول کړل ما ویل چی ورونو څه کوی ! یوه هم د حکومت نه شکایت درلود ، بل هم درلود چی مونږ سره دی حکومت څه کړی دی؛ ماورته ویل چی دا خبری اوس پریږدی اوس دا راته ووایی چی د دوستم مباشر او مستقیم حکومت منلی شی ؟ که یی

ته وایی چی بانکونه یی لوټ کړل زه وایم جی داخبر او دا شکایت باید زه وکړم ځکه'هغه بانکونه لوټ کړل تاټول ملت لوټ کړ ، په سروبی کی دی ورته پاټك اچولی ، په میدان کی دی اچولی په چهار آسیاب کی دی هم آچولی هغه به بانکونه تلاشی کړی وی تا د ملت فرد فرد او حتی ښځی تلاشی کړی ...

